## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**3اسد_سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

له موسسو سره د هوکړې له مخې به په میدان وردګو ولایت کې د سېلاب مصدومین سره نورې مرستې هم وشي -----1

معین مسلکی با معاون سفارت سویس مقیم اسلام آباد ملاقات نمود----------------------------------------------2

نشست اضطراری بمنظور مساعدت به خانواده های متضرر درولایت میدان وردک برگزارشد -----------------------3

نورستان کې له ۱۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې ----------------------------------------------------------4

پاک کاری کانال پارچه دوازدهم مرکز ولایت پروان آغاز شد----------------------------------------------------4

دو حمله "نژادپرستانه" در شرق آلمان در کمتر از یک شبانه‌روز---------------------------------------------5

ترکیه کې له یوه لاری موټر څخه د څلورو کډوالو مړي موندل شوي --------------------------------------------7

حدود دو میلیون کودک در آلمان وابسته به کمک‌های اجتماعی دولتی اند ------------------------------------------8

مهاجرین؛ اهرم فشار ایران در برابر افغانستان -------------------------------------------------------------9

ترکیې په ۶ میاشتو کې ۱۵ زره افغان کډوال په زوره ایستلي ----------------------------------------------11

اسلام اباد کې د دوو افغان کډوالو څانوژنه؛ احتجاج کوونکي د ستونزو حل غوښتنه کوي -------------------------11

افغان فوټسال ملي لوبډلې د کافا جام سیالیو کې ازبکستان ته هم ماتې ورکړه ----------------------------------12

# متن کامل اخبار

## له موسسو سره د هوکړې له مخې به په میدان وردګو ولایت کې د سېلاب مصدومین سره نورې مرستې هم وشي

د وزارت ویب سایت



دغه خبره د مهاجرینو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د وزارت د اطلاعاتو او عامه اړېکو ریاست خبریال ته په یوې مرکې کې وکړه.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

ښاغلی خروټي، چې تېره ورځ يې د يو پلاوي په مشرۍ د جلريز ولسوالۍ د سېلاب ځپلو سيمه څخه ليدنه وکړه ووېل، چې د زيانونو کچه لوړه ده او په زياترو سيمو کې د سېلابونو د راوتلو او ويجاړ شوي کورونو دختو اوخاورو د راټولېدو له امله، مواصلاتي لارې بندي شوي دي.

هغه زياته کړه، د ژغورنې ډله سره له دې چې د روغنياتو له کمښت سره مخ ده، خو په خپلو ماشينريو په واسطه فعاليت کوي او د مهاجرينو چارو وزارت د دوی د ستونزو د حل په موخه نن ۵ زره لېتره تېل د جلريز ولسوالۍ ته لېږلي او هڅې رواني دي، چې له مرستندويه ادارو سره په همغږۍ لازمي مرستې برابرې او مصدومينو ته يې ورسوي. د ويلو ده، چې د تېرې يکشنبې شپې سېلابونو د ميدان وردګو ولايت په جلريز، چک، سيدآباد، جغتو، دايميرداد، جلګې ولسوالۍ او مرکز شاوخوا سيمو کې ۲۵ تنه شهيدان شوي، ۴۰ تنه لادرکه او لسګونه نور ټپيان شوي دي. د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې سېلابونو تر ټولو زيات تلفات د ټکانه، تيشه، رويان درې، زيارت درې، جاې غني او د جلريز په لالي قلعه کې اړولي دي.

په يادو سيمو کې د مرګ ژوبلې سربېره ۳۰ کورونه بشپړخراب شوي، ۸۰ په جزوي توګه ويجاړ شوي او دا احتمال هم شته چې د مرګ ژوبلې شمېر نور هم زيات شي.

## معين مسلکی با معاون سفارت سويس مقيم اسلام آباد ملاقات نمود

ويب سايت وزارت

محترم مولوی عبدالرحمن راشد، معين مسلکی وزارت امور مهاجرين، با آقای البرتو گروف، معاون سفارت سويس در اسلام آباد، در دفتر کارش ملاقات کرد.

در اين ملاقات محترم معين مسلکی با ياد اوری از جنگها ی 40 ساله در کشور و موجوديت مليونها مهاجر و بيجا شده گفت کشور سويس از جمله کشور های ارو پايی است که ميز بانی خوب از مهاجرين افغان نموده است و ما خواهان روابط خوب ميان دوکشور و مساعدتهای بيشتر آن کشور با مهاجرين و بيجا شده ها هستيم.

راشد علاوه نمود که با حاکميت امارت اسلامی و تامين صلح در کشور زمينه عودت داوطلبانه به وطن مهيا شده است، اما عودت کننده ها و بيجا شده ها به عرضه خدمات در عرصه های صحت، تعليم وتربيه، آب آشاميدنی، سرپناه وکاريابی دارند و امارت اسلامی در زمينه به همکاری کشور ها بشمول سويس نياز دارد، اما نبايد موضوع مهاجرت وکمکهای بشری وابسته به مسايل سياسی شود.

بالمقابل معاون سفارت سويس در اسلام آباد با ياد آوری از موافقتنامه 2006 گفت کشورش برتعهدات خود پابند است وخيلی خوب است که شرايط برای ادغام مجدد آماده شده است و سويس به کمکهايش با مردم افغانستان ادامه ميدهد و طرفدار آن است که موضوعات بشری از مسايل سياسی جدا باشد.

وی علاوه نمود که بخش مهاجرت در سفارت سویس در اسلام آباد فعال است و وزارت امور مهاجرین، مسایل تخنیکی و نیازمندیها لازم برای بیجا شده ها را می تواند با مسوولین آن بخش در میان بگذارند.

مولوی سر دار محمد شیرزاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گی در رابطه به بیجاشده ها گفت که بعد از حاکمیت امارت اسلامی، 90 هزار خانواده به محلات اصلی شان انتقال و مساعدتهای لازم از طرف وزارت و شماری از موسسات با ایشان شده است و حدود 75 هزار خانواده دیگر آماده ادغام هستند ، اما نسبت نبود امکانات، معطل قرار گرفته اند و بدون شک همکاری کشور ها در زمینه اثر گذار است.

معاون سفارت مذکور از فراهم شدن امنیت و زمینه مساعد برای ادغام بیجا شده ها اظهار خرسندی نموده و بر ادامه همکاریهای شان تاکید کرد.

دراین ملاقات قاری محمد اجمل ویار، رییس دفتر و مولوی محمود الحق احدی مشاور حقوقی وزارت امور مهاجرین نیز حضور داشتند.

## نشست اضطراری بمنظور مساعدت به خانواده های متضرر درولایت میدان وردک برگزارشد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش آمریت امور مهاجرین ولایت میدان وردک نشست ا ضطراری بمنظور کمک ورسیده گی به خانواده های متضرر از سیلاب تحت ریاست والی آن ولایت وباشتراک نهاد های همکار ملی و بین المللی به تاریخ 2 اسد برگزارشد.

در نشست یادشده والی از اعضا ونماینده های ادارات سکتوری ونهاد های همکار که اشتراک داشتند خواهان همکاری های عاجل شان به خانواده های متضرر ازسیلاب در همه عرصه ها وپاک سازی راه های مواصلاتی شد.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**نماینده های ادارات سکتوری وموسسات خیریه جهت کمک در بخش های خوراکی ، غیر خوراکی اداویه وپاک سازی راه های مواصلاتی که ازاثر سیل تخریب شده وعده همکاری نموده ، تیمی متشکل از نماینده های موسسات وادارت سکتوری جهت سروی وشناسایی خانواده های متضرر تشکیل شد.**

**قابل یاد آوریست که از اثر سرازیر شدن سیلاب های دو روز قبل در ولسوالی های جلریز، نرخ، جغتو، چک و سید آباد ولایت میدان‌وردک ۳۰ تن‌شهید، 25 تن مجروح بیش از هزار منازل مسکونی به گونه کلی و قسمی وبش از ۹ هزار جریب زمین زراعتی تخریب گردیده است.**

## نورستان کې له ۱۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




**د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لورې د نورستان ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په همکارۍ ۱۲۱ کورنیو سره د زمري په لومړۍ نېټه مرستې وشوې.**
**د یادو کورنیو له ډلې، چې د دغه ولایت په برګمټال، کامدېش، وایګل، دوآب، منډول او نورګرام ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې ۱۰۹ کورنیو هرې کورنۍ ته ۴۷ زره او ۷۰۰ افغانۍ او ۱۲ کورنیو هرې کورنۍ ته ۶۱ زره افغانۍ نغدې وویشل شوې.**

## پاک کاری کانال پارچه دوازدهم مرکز ولایت پروان آغاز شد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت پروان، پاک کاری کانال آب پارچه دوازدهم شهر چاریکار با همکاری انجمن مهاجرین دنمارک به تاریخ اول اسد آغاز شد.
کارگران شامل این پروژه که بیشتر عودت کننده ها و بیجا شده ها اند قبلا توسط تیم مشترک ریاست امور مهاجرین ودفتر انجمن مهاجرین ناروی سروی و روزانه در مقابل کار ۴۰۰ افغانی دریافت میکنند.
کارپروژه متذکره با حضور معاون والی پروان، روسای اقتصاد، حوزه دریایی ، نماینده انجمن مهاجرین دنمارک ، بزرگان و موی سفیدان محل افتتاح شد.

## دو حمله "نژادپرستانه" در شرق آلمان در کمتر از یک شبانه‌روز

مهاجرنیوز




**در ایالت زاکسن در شرق آلمان دو حمله "نژادپرستانه" در کمتر از ۲۴ ساعت در آخر هفته رخ داد .شامگاه شنبه مردان نقابدار با ورود به محل اقامت پناهجویان، به دو مرد جوان حمله کردند. چند مهاجم هم روز جمعه به یک زوج حمله کردند.**

**چهار مرد نقابدار به ساکنان یک اقامتگاه پناهجویان در سِبنیتس، واقع در ایالت زاکسن در شرق آلمان حمله کردند. به گفته پولیس، این گروه چهار نفره شامگاه شنبه ۲۲ جولای از در عقبی وارد این اقامتگاه شدند.**

**سپس دو فرد مهاجم، یک ساکن ۱۸ ساله را که دارای پاسپورت افغانی بود به دیوار خانه پرتاب کردند و اشیایی را به سمت او و دیگر ساکن ۱۶ ساله این اقامتگاه پرتاب کردند. بر اساس گزارش‌ها، مهاجمان شعارهای "نژادپرستانه" سر دادند.**

**هنگامی که تعداد بیشتری از ساکنان این اقامتگاه در محل حضور یافتند، مهاجمان بلافاصله دست به فرار زدند. پولیس می‌گوید نتوانسته مهاجمان را پیدا کند و افزوده است که نوجوان ۱۶ ساله آسیب ندیده و نوجوان ۱۸ ساله در محل درمان شده است.**

**به گفته پولیس، پیش‌زمینه این حمله هنوز مشخص نیست. پولیس امنیت دریسدن، که جرم‌هایی با انگیزه‌های سیاسی را پیگیری می‌کند، تحقیقات در این زمینه را به عهده گرفته است.**

**حمله در گورلیتس**

**این دومین حمله "نژادپرستانه" در ایالت زاکسن، در روزهای آخر هفته است. عصر روز جمعه ۲۲ جنوری، چهار مرد در گورلیتس به یک زوج در آپارتمان‌شان حمله کردند و آنها را مورد ضرب و شتم قرار دادند. این افراد سپس به چند افسر پولیس حمله کردند؛ گفته می‌شود یکی از این افراد ماموران پولیس را با چاقو تهدید کرد.**

به گفته سخنگوی پولیس، این گروه در هنگام حمله خود "سلام هیتلری" را نیز اجرا کردند. حکم بازداشت متهم و سرکرده ۳۵ ساله این گروه صادر شد. همچنین هویت سه مرد ۱۳، ۱۶ و ۱۸ ساله و یک زن ۳۹ ساله مشخص شده است. بر اساس این گزارش، یک مظنون دیگر توانست از دست ماموران فرار کند.

## ترکیه کې له یوه لارۍ موټر څخه د څلورو کډوالو مړي موندل شوي

مهاجرنیوز




د ترکيې دولتي رسنۍ اناتولي خبر ورکړی چې د یکشنبې په ورځ په ادرنه ښار کې د څلورو ناقانونه کډوالو مړي د یوه لارۍ موټر له شا څخه موندل شوي. دغه لارۍ موټر له ازمیر ایالت څخه یونان ته حرکت درلود. له یادې پیښې یوه ورځې وروسته نن دوشنبه د ترکيې ساحلي ساتونکو د بالیکسیر په ایالت کې لسګونه کډوال نیولي دي.

اناتولي خبري آژانس لیکلي چې د دغو کډوالو مړي هغه مهال و موندل شول کله چې د لارۍ چلونکی د شمال لویدیځ ادرنه ایالت کې د موټرو یو تمځای ته د رسیدو پر مهال د خپل موټر تر شا غږونه واوریدل.

د دغه باور وړونکي موټر چلونکی کله چې خپل موټر خلاص کړ نور څلور نارینه کډوال یې ولیدل چې حرکت یې نه درلود . روغتیایي ډلې د پیښې ځای ته له رسیدو وروسته د دوو تنو مړي تایید کړ خو دوه نورو بیا وروسته په روغتون کې ساه ورکړه.

د قربانیانو هویت لا نه دی څرګند شوی.

ادرنه د ترکیې هغه ایالت دی چې په اروپايي خاوره کې موقعیت لري. ګڼ شمیر کډوال هڅه کوي چې له همدغې لارې ځانونه بلغاریا او نورو اروپايي هیوادونو ته ورسوي .

د موټر چلونکی د ترکیې پولیسو ته ویلي چې بڼايي دغه کډوال په ګلیبولو سیمه کې د ده موټر ته د دریډو پر مهال د ننه شوي وي.

د ۱۳ کډوالو نیول

د ترکیې دولتي رسنۍ اناتولي په یو بل خبر کې نن دوشنبه لیکلي چې ساحلي ساتونکو د دغه هیواد په بالیکسیر ایالت کې ۱۶ هغه ناقانونه کډوال نیولي چې د یونان لسبوس ته یې د سفر هڅه درلوده.

دغه کډوال د آیوالیک په ساحلي ښار کې د پولیسو په عملیاتو کې نیول شوي دي.

سربیره په پر دې ۱۳ تنه نور کډوال چې په یوه وړه کښتۍ کې سپاره ول، په سمندر کې له ډوبید څخه ژغورل شوي دي .

ټول دغه کډوال د اداري مراحلو له بشپړیدو وروسته د بالیکسیر د کډوالی اداري ته سپارل شوي.

ترکیه د کډوالو لپاره د ترانزیت هغه هیواد دی چې د افغانانو په ګډون د یو شمیر نورو هیوادونو وګړي هڅه کوي چې له دغې لارې په سمندر او یا هم د ځمکې له لارې ځانونه بلغاریا، یونان او نورو اروپايي هیوادونو ته ورسوي.

## حدود دو میلیون کودک در آلمان وابسته به کمک‌های اجتماعی دولتی اند

مهاجرنیوز



**حدود دو میلیون کودک با والدین شان در آلمان وابسته به کمک‌های اجتماعی دولتی اند. این شمار مشابه با ارقام سال ۲۰۱۵ در اوج مهاجرت می باشد. شمار زیادی کودکان مهاجر از جمله ازافغانستان، سوریه و اوکرایین وابسته این کمک ها اند.**

**این موضوع نتیجه ارزیابی اداره کار آلمان فدرال می باشد که روزنامه «فرانکفورته الگماینه سایتونگ» (شماره شنبه) از آن گزارش داده است و نیز در دسترس خبرگزاری آلمان قرار گرفته است.**

**اما آنچه در این مدت زمانی تغییر کرده است، تناسب کودکان آلمانی و خارجی در ارتباط با دریافت پول شهروندی در آلمان می باشد. پول شهروندی (Bürgergeld) در اول جنوری سال جاری، جانشین کمک های اجتماعی دولتی موسوم به «هارتس ۴ «شد.**

**حینی که در آلمان در سال ۲۰۱۵ حدود ۱،۵۷ میلیون کودک آلمانی بودند، این رقم در ماه مارچ سال جاری به ۱،۰۳ میلیون کاهش یافت. در مقابل شمار کودکان خارجی از ۳۶۵ هزار به ۹۳۵ هزار افزایش یافته است.**

**به این ترتیب در حال حاضر حدود ۴۸ در صد کودک که توسط پول شهروندی مورد حمایت قرار می گیرند، شهروندان کشور های دیگر اند. در سال ۲۰۱۵ این رقم حدود ۱۹ درصد بود.**

**از سال ۲۰۱۵ به این سو، سوریه، عراق و دیگر کشور های مبداء پناهندگی به آلمان آمده اند و از آغاز جنگ تهاجمی روسیه علیه اوکرایین، حدود ۲۷۰ هزار کودک از اوکرایین به این رقم افزوده شده است.**

**در آلمان از سال ها به این سو در مورد تأمین هزینه بنیادی کودکان بحث می شود و حکومت آلمان می خواهد آن را در همین دوره قانگذاری اش رایج نماید. به این ترتیب قرار است خانواده ها آسان تر به کمک های دولتی دست یابند.**

## مهاجرین؛ اهرم فشار ایران در برابر افغانستان

رادیوکلید



وزارت داخله ایران حضور مهاجران افغان را در شهرکرمانشاه کاملا ممنوع اعلام کرده است. مقامات این کشور گفته‌اند که برنامه شناسایی مهاجران افغان از ۲۸ سرطان آغاز و تا ۱۰ اسد، ادامه خواهد داشت. با این حال شماری از مهاجرین افغان این تصمیم را وسیله فشار ایران بر افغانستان دانسته و می‌گویند که اکنون آنان از بی‌سرنوشتی رنج می‌برند.

وزارت داخله ایران، اقامت، اسکان و اشتغال مهاجران افغان را در شهر کرمانشاه ممنوع اعلام کرده و دستور بازداشت آنان را نیز صادر کرده است.

این تصمیم حکومت ایران شماری از مهاجرین افغان را نگران کرده است. آنان می‌گویند که ایران همواره با آزار و اذیت مهاجرین، افغانستان را تحت فشار قرار داده است.

از نظر برخی از آگاهان، این بار ایران به خاطر بحران خشکسالی و حق‌آبه، می‌خواهد از مهاجران به حیث یک اهرم فشار علیه افغانستان کار بگیرد.

محمد و نعیم، دو تن از مهاجرین مقیم شهر کرمانشاه ایران در مورد تصمیم اخیر حکومت آن کشور چنین می‌گویند:"مدت طولانی در کرمانشاه زندگی کردیم، اما به‌گونۀ اجباری ما را اخراج کردند. اززمانی‌که مسئله آب بین افغانستان و ایران جدی شده، ما زندگی خوبی نداشتیم، اما اکنون کاملا بی‌سرنوشت شدیم."

"کار و زندگی در کرمانشاه داشتیم هرچند از یک سال به این طرف محدودیت‌های زیادی وضع شده بود، ولی حال همه چیز را نادیده گرفتند و ما را با فامیل به گونۀ اجباری اخراج کردند."

برخی از کارشناسان نیز به این نظراند که کشورهای همسایه، به‌خصوص ایران برای تامین منافع سیاسی شان، درسال‌های متمادی از مهاجرین افغان منحیث یک ابزار استفاده کرده‌اند.

هاشم قیام، یکتن از کارشناسان سیاسی می‌گوید:"به‌خاطر اینکه موضوع حق‌آبه یک مسئله داغ سیاسی در ایران است، به این دلیل این کشور برای بدست آوردن امتیاز، فشارهای بی‌مورد را بر افغان‌های مهاجر در این کشور اعمال می‌کند."

در عین حال مقامات امارت اسلامی می‌گویند که در تلاش‌اند تا زمینه را برای بازگشت داوطلبانه مهاجران به کشور فراهم کنند.

آنان از مهاجران می‌خواهند که تا فراهم شدن زمینه از حوصله‌مندی در برابر تصامیم کشور میزبان کار بگیرند.

ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی در این مورد به کلید می‌گوید:"از طریق سفارت خانه‌های خود در ایران و پاکستان، وضعیت مهاجرین را از نزدیک بررسی می‌کنیم و خواهان این استیم که کشورهای میزبان با مهاجرین رفتار خوب داشته باشند و حقوق آنان را رعایت کنند."

گفتنی است که ایران و پاکستان از کشورهایی است که میزبان بیشترین مهاجرین افغان می‌باشند و از این بابت هزینه‌های هنگفتی را از سازمان ملل متحد بدست می‌آورند، اما مهاجرین افغان همواره در این کشورها با محرومیت و آزار واذیت روبه‌بوده‌اند.

## ترکيي په ۶ مياشتو کې ۱۵ زره افغان کډوال په زوره ايستلي

راديوسپوږمی

په ترکيه کې د افغان کډوالو د ملاتړ ټولنې پرون وويل چې په دغه هېواد کې ۳ سوه زره افغانان رسماً ثبت شوي چې اکثره د لنډې مودې لپاره دغه هيواد ته تللي دي خو د هغوی په منځ کې ۴۸ زره د اوږدې مودې د اقامت اسناد لري.

د دې ټولنې د معلوماتو پر اساس د ترکيي حکومت د روان ميلادي کال له پيله د جون تر ۲۲ پورې ۱۵ زره افغانان له خپلې خاورې ايستلي دي دېرى افغانان د ايران له خاورې په خطرناکو لارو ترکيي ته اوړي.

## اسلام اباد کې د دوو افغان کډوالو ځانوژنه؛ احتجاج کوونکي د ستونزو حل غوښتنه کوي

بی بی سی پښتو

په پاکستان کې يو شمېر افغان کډوالو په يوه اعتراضي غونډه کې ادعا کړې چې د افغان کډوالو په منځ کې د ځانوژنې وروستۍ پېښې "د ملګرو ملتونو سازمان د کم کارۍ له امله دي."

دغه اعتراضي ناسته داسې مهال په پاکستان کې وشوه چې په تېره يوه مياشت کې دوه افغان کډوالو دغلته ځانوژنه وکړه.

افغان معترض کډوال ادعا کوي چې يادو افغانانو د اقتصادي ستونزو، د پاکستاني پوليسو د ناوړه چلند او بې برخليکۍ د فشارونو له امله ځانوژنه کړې ده.

احتجاج کوونکو چې "موږ وژغورئ ليک دړې يې په لاسونو کې نيولې وې، په اسلام اباد کې د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې په برخه کې په کم کارۍ تورنه کړه؛ هغه څه چې د دغو معترضانو په باور د "دوو افغانانو د ځان وژنې اصلي لامل دی".

د يادې اعتراضي غونډې يوه ګډونواله مونسه مبارز وايي، "هغه کډوال چې کار نه لري، عايد نه لري، نړيوال بنسټونه پام ورته ونه کړي، نه خپل هېواد ته تلی شي او نه له پاکستانه بل هېواد ته وتلی شي، نو له ځانوژنې پرته بله حل لاره نه ور پاتې کېږی."

دا وايي، "موږ له هغو نړيوالو ادارو څخه چې غيرسياسي او بشرى ماموريتونه لري، غواړو چې د بشر او انسان په توګه په اسلام اباد کې د افغان کډوالو ستونزو ته پام وکړي.»

د تېرې مياشتې په پيل کې په اسلام اباد کې يوه افغان کډوال خپل ځان له شپږم پوړه وغورځاوه او دوهم يې چې يو ۲۴ کلن ځوان و، تېره اوونۍ په اسلام اباد کې "ځانوژنه" کړې ده.

په اسلام اباد کې د اعتراضي غونډې د ګډونوالو په وينا يادو دواړو افغان کډوالو "د اقتصادي ستونزو، د پاکستاني پوليسو د فشارونو، بې برخليکۍ او د ويزو ترلاسه کولو له پروسې د ناهيليو له امله ځانوژنه کړې ده. "

يوه بله معترضه مولوده توانا وايي، "په افغانستان کې د جمهوريت له پاشل کېدو وروسته د يو لړ مجبوريتونو او ګواښونو له مخې زيات شمېر افغانانو خپل هېواد پرېښود. په هوس او خوشحالۍ مو خپل هېواد نه دی پرېښې او پاکستان ته نه يو را کډوال شوي."

نوموړې زياتوي، "د ملګرو ملتونو سازمان نه پاملرنه او کم کاري د دې لامل شوه چې ځينې افغانان ځانوژنه وکړي. هغه هېوادونه چې کډوال مني، د افغانستان په ځانګړي ډول په درېيمو هېوادونو کې د افغان کډوالو قضيې ورته د درک وړ دي،

**نو مورې له دغو هېوادونو هيله کوو چې د کډوالو د منلو په معيارونو کې بدلون راولي او هغو کسانو ته ويزې ور کړي چې واقعا په شرايطو برابر دي."**

**يادو معترضانو د ملګرو ملتونو له سازمانه وغوښتل چې نور په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعيت له پامه ونه غورځوي او د دوی ستونزو د حل لارو پيدا کولو لپاره له پاکستاني چارواکو سره خبرې وکړي.**

**افغان پناه غوښتونکو پخوا هم اسلام اباد کې احتجاجونه کړي دي**

**دغه کډوال په پاکستان کې د امنيتي چارواکو د خپلسرو نيونو، زنداني کېدو، لوټلو او بېرته افغانستان ته د لېږلو له ګواښ سره مخامخ دي.**

**دغه افغان کډوال چې اکثرو سره يې مالی منابع هم خلاصي شوي، تر سختو اقتصادي او رواني فشارونو لاندې په اسلام اباد کې ژوند کوي.**

**د يادونې ده چې د بښنې نړيوال سازمان د جون شلمې يا د کډوالو نړيوالې ورځ په مناسبت يوه رپوټ کې د پاکستان پر حکومت غږ کړی و چې په سملاسي ډول دغه هېواد کې د افغان کډوالو او پناه غوښتونکو 'خپلسره نيول او ځورول' بند کړي.**

## افغان فوټسال ملي لوبډلې د کافا جام سياليو کې ازبکستان ته هم ماتې ورکړه

باختر اطلاعاتي آژآنس



**افغان فوټسال ملي لوبډلې د کافا اتلوليو جام سياليو کې په خپلې دويمې لوبه کې د ازبکستان پياوړې لوبډلې ته د ۴/۳ ګولونو په توپير ماتې ورکړه او د شپږو امتيازونو په درلودلو سره يې د جدول په لومړي سر کې ځای ومونډ .**

په دې لوبه کې د افغان لوبډلې پیاوړي لوبغاړي رضا حسین پور په وروستۍ ثانیه کې د ازبکستان خلاف ګول ترسره کړ او لوبه یې د افغانستان په ګټه پای ته ورسوله.

د دې سیالیو لومړی ګول حمید حسین، دویم سید حسین موسوي، درېیم علي فیاضي ترسره کړ.

دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې په لومړنۍ لوبه کې افغان لوبډلې قرغیزستان ته ماتې ورکړې وه او له یوې ورځې دمې وروسته به سبا نه بل سبا له ایران هېواد سره خپله درېیمه سیالي ترسره کړي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*